# ارشاداتِ اِمامِ زینُ العابدین رحمۃ اللہ علیہ

پښتو





پیشکش:
مجلس المدینۃ العلمیہ (دعوت اسلامی)

ترجمہ:
ټرانسلیشن ډیپارټمنټ (دعوت اسلامی)

اَلْحَمْدُ لِلّٰہِ رَبِّ الْعٰلَمِیْنَ وَ الصَّلٰوۃُ وَالسَّلَامُ عَلٰی سَیِّدِ الْمُرْسَلِیْنَ
اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰہِ مِنَ الشَّیْطٰنِ الرَّجِیْمِ ط بِسْمِ اللّٰہِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ ط

# ارشاداتِ اِمامِ زینُ العابدین رَحْمَۃُ اللہِ عَلَیْہ

**دعائے عطار:** یا ربِّ مصطفیٰ! څوک چې دا رساله "ارشاداتِ اِمامِ زین العابدین" اولولي یا واوري. هغوئي ته د صحابهٔ کرامو او اهلِ بیتو په ارشاداتو د عمل کولو او د هغې د عام کولو توفیق ورکړې او هغوئي بے حسابه اوبخښې.
اٰمِین بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم

## د دُرُودِ پاك فضیلت

**فرمانِ اِمامِ زینُ العابدین** رَحْمَۃُ اللہِ عَلَیْہ: په رسولُ الله صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم باندې زیات درود لوستل د اهلِ سُنَّت علامت دے.(القول البدیع، ص 131، حدیث: 5)

مجھے تم مَسلکِ احمد رضا پر استقامت دو     بنوں خدمت گزارِ اہلِ سنّت یا رسول اللہ

(وسائلِ بخشش، ص 334)

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## د ورومبي علم حاصلوونکي مقام

چا چې ستاسو نه مخکښې عِلم حاصل کړو نو هغه په دغه مُعامَله کښې ستاسو رهنما دے که هغه ستاسو نه په عمر کښې کم ولې نه وي.
(احیاء العلوم، 197/1)

## عُلماء د انبیائے کرامو وارثان

په دُنیا کښې د خلقو سرداران سخیان دي، او په آخرت کښې به دین

والا او د علم و فضل خاوندان [سرداران] وي ځکه چې علمائے کرام د انبیائے کرامو وارثان دي. (تاریخ ابن عساکر، 41/385)

## لوئے مرتبے والا څوک؟

عرض اوکړے شو: په خلقو کښې د ټولو نه لوئے مرتبے والا څوک دي؟ اوئې فرمائیل: د چا په مخکښې چې د دُنیا څه حیثیت نه وي.

(التذکرۃ الحمدونیه، 1/112، رقم:222)

## دُنیا او آخرت

دُنیا د خوب (یعني د غفلت ځائے) او آخرت د بیدارئ (ځائے) دے او مونږه په دې کښې د پریشانه خوب په شان یو. (ربیعُ الابرار، 1/37، رقم:47)

## حقیقي زاهد څوک؟

د حضرت علـي بن حُسَین (یعني امام زین العابدین) رَحۡمَةُاللهِعَلَیۡه نه د زاهد (یعني د دُنیا نه د بے رغبته کَس) د صِفَت په باره کښې پوښتنه اوکړے شوه نو هغوئې اوفرمائیل: کوم چې د سفر د سامان نه بغیر (منزل ته) رسي، د خپل مرګ د ورځې تیاري ساتي، او (د آخرت په شوق کښې) د ژوند نه ستړے شي.

(المنتخب من کتاب الزہد والرقائق، ص83، رقم:44)

## د خوبیانو او بدو آئین

غور و فکر یو داسې آئین دے کوم چې مؤمن ته خپلې خوبئ او بدئ ښائي. (تاریخ ابن عساکر، 41/408)

## په هغه ګَس حيرانتيا ده!

زه هغه تَكَبُّر كوونكي ګَس ته حيرانه يم چې تر پرونه پورې صرف د (ناپاكه) اوبو څاڅكے وو او څه موده پس په به (په قبر كښې) خراب بدبوداره مړے جوړ شي، او زه هغه ګَس ته هم ډير حيران يم، كوم چې د الله پاک د (وجود) په باره كښې شک كوي حالانكه هغه خپل پيدا كوونكے ويني (كوم چې د پيدا كوونكي خالق د وجود روښانه دليل دے). او زه په هغه ګَس هم حيران يم كوم چې د قيامت په ورځ د بيا ژوندي كيدو نه انكار كوي حالانكه هغه په وړومبي ځل پيدا كيدل ويني (ځكه چې كوم رَبّ په وړومبي ځل پيدا كولے شي، هغه بيا ژوندے كولے هم شي) او زه په داسې ګَس هم حيرانتيا ښكاروه كووم كوم چې د فنا كيدونكې دُنيا د پاره خو كار كوي خو هميشه د اوسيدو كور (آخرت) پريږدي. (او صاحبِ روح البيان شيخ اسماعيل حقي رَحۡمَۃُاللّٰہِ عَلَیۡہ دا اضافه كړې ده:)

په عقلمند باندې لازم دي چې هغه دِ د دې كارونو نه عبرت واخلي، د هغې نه وړاندې چې مرګ ئې په سر راشي، هغه له پكار دي چې الله پاک ياد كړي او د حق په لاره كښې سحر او ماښام كوشش اوكړي او د مرګ نه مخكښې د هغې تياري اوكړي ځكه چې وخت د هوا د تيزئ په شان تيريږي. هغه خلق چرته دي چا چې به د نبيانو او رسولانو نه انكار كولو او هغوئي

به ئې دروغ ګڼړل؟ په الله پاک مې دې قسم وي! هغه مړه شو او نِږدې ده دا ټول کائنات ختمیدونکے دے، بس په دې کائنات کښې فرښتې، پیریان او په انسانانو کښې به یو هم نه بچ کیږي، اعمال نامے به راغونډې کړے شي او قیامت به قائم شي، په دې کښې به هر وړوکے غټ عمل ښکاره شي، هائے افسوس د بدبختو رسوائي او ذلیل کیدل! د نیکانو خلقو سعادت مندي. اے زمونږه رَبَّه! مونږه ستا نه د مرګ د یاد، په نیکو باندې د استقامت او ظاهري و باطني طور په سیدها لاره د روانیدو سوال کوو، اے قوي (یعني طاقت والا)! اے مُعِین (یعني مدد کولو والا)! زمونږ د کمزورو مدد اوکړې، اٰمین. (تفسیر روح البیان، پ8، الاعراف، تحت الآیة:136/3،8)

## سرکشه بدن

بیشکه بدن چې کله بیمار نه وي، نو سرکشه کیږي او د سرکشه بدن نه د خیر طمع نه کیږي. (سیر اعلام النبلاء، 338/5)

## بغیر عِلمه دې د چا په باره کښې خبره اونکړے شي

یو ګس دې د بل چا په باره کښې د خیر داسې هیڅ خبره نه اونکړي، کومه چې هغه ته پخپله معلومه نه وي، ځکه چې بیا نزدې ده چې هغه د هغه په باره کښې د بدئ یوه داسې خبره هم اوکړي، کومه چې هغه ته معلومه هم نه وي. او کله چې په تاسو کښې دوه ګسان د الله پاک په نافرمانئ دوستي کوي نو هغه دواړه د الله پاک په نافرمانئ جدا کیږي. (تهذیب الکمال، 398/20)

## حقيقي وروروليﻲ

هغوئي د يو ګس نه تپوس اوکړو: آيا تاسو د خپل (ديني) ورور د جيب نه د هغه د اجازت نه بغير هم په خپله خوښه څه راويستے شئ؟ هغه جواب ورکړو: نه، نو هغوئي اوفرمائيل: (که چرې داسې وي) نو ستاسو د دواړو په مينځ کښې (تر اوسه پورې حقيقي) وروروليﻲ نشته. (قوت القلوب،2/374)

## په دوستئ او دښمنئ کښې احتياط

د يو ګس سره هم هيڅ کله دښمني مه ساتئ اګرچه ستاسو خيال وي چې هغه به تاسو ته څه نقصان نه اُونه رسوي او د چا تحفه [ډالئ] هيڅ کله هم بے کاره مه ګڼړه اګرچه ستاسو په خيال کښې به هغه تاسو ته څه فائده نه درنکړي ځکه چې تاسو ته معلومه نه ده چې کله به تاسو ته د خپل دوست ضرورت پيښيږي او تاسو ته معلومه نه ده چې کله به د خپل دښمن نه ويريدل پريوځي او کله چې تاسو ته څوک عذر (د معافئ غوښتلو څه وجه) راوړي او راشي نو د هغه عذر قبول کړئ اګرچه تاسو ته پته وي چې هغه ګس دروغژن دے. (التذكرة الحمدونية،4/357،رقم:901)

د الله پاک په تقسيم باندې راضي کيدل په حقيقت کښې "غنٰـی" ده څوک چې د خپل ځان د پاره د الله پاک په تقسيم راضي شو نو هغه په خلقو کښې د ټولو نه زيات غني دے. (حلية الاولياء،3/159،رقم: 3543)

## په تقدير راضي اوسئ!

د تقدير په ناخوښه کارونو (يعني سختيانو) باندې راضي اوسيدل، د يقين د اعلٰـى درجو نه دي. (عيون الاخبار، 403/2)

## په سختيانو صبر کوئ!

اے زما ځويه! په سختيانـو باندې صبر کوه، د چا حقونه مه ضائع کوه او خپل ورور په داسې کار کښې مه اخته کوه د کوم چې نقصان ستا د پاره د (عارضي) ګټې نه زيات وي. (تاريخ ابن عساکر، 408/41)

## په زړونو کښې د محبت اچولو ذريعه

بيشکه هغه ته د خپل محبت قيدي جوړ کړې چا چې ستا په اِحسان منلو کښې وړاندې والے اوکړو. (تاريخ ابن عساکر، 409/41)

## سخي څوک دے؟

سخي هغه نه دے چې غوښتونکو له ورکوي بلکه سخي هغه دے کوم چې د الله پاک د فرمانبردارو په حقونو پوره کولو کښې وړاندې والے کوي او د خپل تعريف خواهش مند نه وي په شرط د دې چې هغه د الله پاک د دربار نه د کامِل [يعني پوره] ثواب يقين ساتي. (احياء العلوم، 304/3)

## په سخي او کنجوس کښې فرق

سخي (د الله پاک په) فضل خوشحاليږي، او کنجوس په خپل مال فخر کوي. (التذکرة الحمدونيه،2/262،رقم 682)

## میلمستیا د اعلٰـی اخلاقو نښه ده

د اعلٰی اخلاقو نښه دا ده چې بنده د خپل میلمه (پخپله) میلمستیا اوکړي لکه څنګه چې حضرت ابراهیم خلیلُ الله عَلَیْهِ السَّلَام پخپله او د خپل کور والؤ سره د میلمنو میلمستیا اوکړه. (المستطرف، ص194، ربیع الابرار،227/3)

## په قیامت کښې د سکون ډکې سترګې

د قیامت په ورځ به د دریو سترګو نه علاوه د هر چا سترګې ویخې (یعني پریشانه) وي (1) هغه سترګې کومې چې د الله پاک په لاره کښې ویخې وي (2) هغه سترګې کومې چې د الله پاک د حرام کړے شوؤ کارونو نه بچ وي او (3) هغه سترګې کومې چې د الله پاک د ویرې نه ژاړي.

(التذکرة الحمدونیة،116/1،رقم:236)

## په رَمَضَان کښې په غفلت کښې اوسیدونکو باندې حیرانتیا!

امام زین العابدین رَحْمَةُ اللهِ عَلَیْه د اختر په ورځ خلق اولیدل چې خندل ئې نو هغوئي اوفرمائیل: بیشکه الله پاک د روژې میاشت د خپل مخلوق د پاره د (عمل) میدان جوړ کړے دے، چې خلق د هغه د خوښې د کارونو په ادا کولو کښې وړاندې لاړ شي، نو یو قوم په دې معامله کښې وړاندې والے اوکړو نو هغوئي کامیاب شو او یو قوم وروستو پاتې شو نو هغوئي په نقصان کښې پاتې شو، نو په هغه ورځ په غفلت کښې پاتې خندیدونکو باندې

حیرانتیا ده په کوم کښې چې نیکان خلق کامیابیږي او بد کارونه کوونکي په نقصان کښې اوسي، په الله پاک مې دې قسم وي! که چرې پردې اوچتې کړے شي نو د دې په ځائے چې نوې جامې واغوندي او ویښته واړوي، نیکان خلق به په خپل ځان د شوي احسان په شکر کښې او بد خلق به د خپلو ګناهونو په پښیمانتیا کښې مشغول شي. (التذکرة الحمدونیه، 117/1، رقم:240)

## د عقلمند د پاره اشاره کافي ده

هوښیاري میلاویدل د حفاظت اشاره ورکوي. د عقلمند د پاره اشاره کافي ده او د جاهل د پاره تفصیلي خبرې هم بے فائده دي او که هر څنګه فائده منده خبره ولې نه وي په بده طریقه اوریدو په صورت کښې د هغې نه نفع نشي حاصلیدے. (التذکرة الحمدونیه، 273/1، رقم:705)

## د خبرو فن او د خرابیانو نه حفاظت

که چرې خلق په مختلفو حالاتو کښې د سوالونو ترجیح او د بیانونو د صحیح کیدو کیفیت اوپیژني نو هغوئي په خپلو زړونو کښې د راتلونکو خبرو بیخ ته هم رسیدے شي، دې سره به هغوئي ته داسې یقین نصیب شي کوم چې به هغوئي سِوا د خپلو اعمالو (د نتیجو) نه ( کوم چې د خلقو د طرف نه پیدا کړے شوي وي) په هر کیفیت کښې د خرابئ نه بچ اوساتي خو داسې کارونو ته رسیدل په لږه موده کښې او لږ شان غور و فکر سره نه حاصلیږي

بلکه د دې د پاره به هغه په جور نظر د داسې خلقو کتنه کوي کوم چې په جهالت، ځان ښه ګنړلو او خواهشاتو کښې راګیر دي او د عِلم نه غافله دي او په بدو کښې مشغول دي. (البیان والتبیین، 84/1)

## د غیبت نه د بچ کیدو اجر

(ځوک ئې په غیبت کولو واوریدلو نو اوئې فرمائیل:) د غیبت نه بچ شه ځکه چې دا د دوزخ د سپو خوراک دے، کوم کَس چې د خلقو د عِزَّت خرابولو نه بچ شي نو الله پاک به د قیامت په ورځ د هغه ګناهونه معاف کړي. (ربیع الابرار، 320/2، رقم:55. المختار من مناقب الاخیار، 42/4)

خوږو او محترمو اسلامي وروڼو! د کربلا مظلوم حضرت امام زین العابدین رَحۡمَۃُاللہِ عَلَیۡہ غیبت کوونکو ته د انساني شکل لرونکو سپو سره تشبیه [په دې وجه] ورکړې ده چې په قرآنِ پاک او احادیثو مبارکو کښې غیبت ته د مُرداري غوښې خوړلو په شان وئیلے شوي دي او مُرداره غوښه جُووَل او خوَړل د سپو کار دے په دې وجه غیبت کوونکي لکه د سپو په مثال د انسانانو د قِسمونو نه اووتل ځکه که چرې انسانان وے نو په دوئې کښې به د انسانانو صفت وے او د انسانانو خصلت به پکښې موجود وے، د چا غیبت به ئې نه کولے، د چا غوښه به ئې د سپو په شانتې نه جُووَلے.

(غیبت کی تباہ کاریاں،صفحہ:324)

نبی کا صدقہ سدا غیبتوں سے دور رکھنا کبھی بھی چغلی کروں میں نہ یارب!

ترے حبیب اگر مسکراتے آجائیں　　　تو گورِ تیرہ میں ہوجائے چاند نا یارب!

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب!　　　صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## د غصّې نقصان

د غصّې په حالت کښې بنده د الله پاک غضب ته ډېر نزدې کيږي.

(المستطرف، ص203)

## چا ته په چا برتري حاصله نه ده

يو کَس دې په بل کَس خپله برتري نه زباتي ځکه چې تاسو ټول غلامان (يعني بندګان) ئې او ستاسو آقا (يعني پالونکے) هم يو دے.

(التذکرة الحمدونيه،3/390، رقم:1051)

## د مرګ نه انکار نشته

د امام زين العابدين رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه يو شهزاده وفات شو نو هغوئي په اوچت آواز اُونه ژړل او اوئې فرمائيل: دا (مرګ) داسې دے، د کومې چې مونږه طمع ساتله، چې کله هغه واقع شو، نو مونږه ترې انکار نه کوو.

(التذکرة الحمدونيه،4/195، رقم:475، المختار من مناقب الاخيار،4/39)

## د ټولو نه زياته غريبي

د ټولو نه غټه غريبي خپل خواره خلق د لاس نه وتل [يعني ضائع کول] دي.

(حلية الاولياء،3/158،رقم:3540)

## د امام زین العابدین دُعا

هغوئي رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه به دا دُعا کوله: ''اَللّٰھُمَّ اِنِّیۡ اَعُوۡذُ بِکَ اَنۡ تُحَسِّنَ فِیۡ لَوَائِعِ الۡعُیُوۡنِ عَلَانِیَتِیۡ وَتُقَبِّحَ فِیۡ خَفِیَّاتِ الۡعُیُوۡنِ سَرِیۡرَتِیۡ اَللّٰھُمَّ کَمَا اَسَاْتُ وَاَحۡسَنۡتَ اِلَیَّ فَاِذَا عُدۡتُّ فَعُدۡ عَلَیَّ یعني اے الله پاکه! زه د دې خبرې نه ستا پناه غواړم چې زما ظاهري کارونه خو ښه وي او پټ کارونه بد وي. اے الله پاکه! زما د بدو اعمالو باوجود چې تا څنګه زما سره د خیر مُعامَله اوفرمائیله هم دغه شان که چرې بیا زما نه څه کوتاهي اوشي نو ته زما سره د بخښنې او مُعافۍ مُعامَله اوفرمائې.‘‘

(حلية الاولياء، 3/158، رقم:3540)

## د عبادت په مُعامَله کښې د خلقو قِسمونه

(په عبادت کښې د خلقو درې قسمونه دي:) **(1)** څینې خلق د الله پاک عبادت د ویرې په وجه کوي، دا د غلامانو په شان عبادت دے. **(2)** څینې خلق د جَنَّت حاصلولو د پاره عبادت کوي، دا د سوداګرو په شان عبادت دے او **(3)** څینې خلق د شکر په طور عبادت کوي، دا د آزادو خلقو عبادت دے.

(حلية الاولياء، 3/158، رقم:3540)

## د ټولو نه زیات مالداره څوک؟

د ټولو نه زیات مالداره هغه دے څوک چې د الله پاک په ورکړے شوي رزق قناعت [یعني صبر] اوکړي.

(حلية الاولياء، 3/159، رقم:3543)

## مونږه زمونږ د مرتبے نه مه اوچتوې

زمونږ سره د اسلام د پاره محبت ساتئ او مونږه زمونږ د مرتبے نه مه اوچتوئ.

(حلية الاولياء،3/161،رقم:3552)

## د نرمئ قدر

ما ته چې د نرمئ نه ځومره حِصّه میلاؤ شوې ده د هغې په بدله کښې که چرې ما ته سره اوښان هم راکړے شي نو زما خوښ نه دي.

(حلية الاولياء،3/161،رقم:3553)

[یعني په عربو کښې د سرو اوښانو ډیر زیات قیمت دے په دې وجه حضرت اِمام زینُ العابدین رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه ځکه دا خبره اوفرمائیله]

## د دیني فائده ورکوونکي صحبت اختیار کړئ

حضرت محمد بن عبد الرحمٰن بن مدیني رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه بیانوي چې حضرت علـي بن حسین رَحْمَةُاللهِ عَلَيْهِما به د خپل قوم د حلقو پرېښودو سره د حضرت زید بن اسلم رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه په حلقه کښې کښېناستلو او فرمائیل به ئې: " انسان د هغه سره کښیني کوم چې په دیني اعتبار سره هغه ته فائده رسوي."

(حلية الاولياء،3/162،رقم:3556)

## ما په ډیره ژړا مه ملامته کوئ

اے خلقو! ما (په ډیره ژړا باندې) مه ملامته کوئ ځکه چې حضرت یعقوب عَلَيْهِ السَّلَام خپل یو ځوي (حضرت یوسف عَلَيْهِ السَّلَام) ورك کیدلو دومره ئې

اوژړل چې سترګې ئې سپينې شوې (يعني د سترګو نظر ئې کمزورے شو) حالانکه هغوئي ته (پخپله د خپل ځان له طرفه) معلوم نه وو چې د هغوئي ځوي وفات شوے دے (يا ژوندے دے)، او ما د خپل کور 14 کسان د خپلو سترګو وړاندې په يو جنګ (ميدانِ کربلا) کښې په شهيد کيدلو ليدلي دي، ستاسو څه خيال دے چې د هغوئي غم به زما د زړه نه اوځي؟

(حلية الاولياء، 162/3، رقم: 3557)

## د صبر بدله

د قيامت په ورځ به يو اعلان کوونکے اعلان اوکړي چې "صبر کوونکي چرته دي؟" ځيني خلق به اودريږي، د هغوئي نه به پوښتنه اوکړے شي: "تاسو په کوم خيز صبر کړے وو؟" هغوئي به اووائي: "مونږه د الله پاک په اطاعت کلک اودريدلي وو او د هغه د نافرمانئ نه مو ځان بچ کړے وو." هغوئي ته به اووئيل شي چې "جنّت ته لاړ شئ تاسو رښتيا اووئيل."

(حلية الاولياء، 162/3، رقم: 3559)

## د الله پاک د توبه کوونکي سره محبت

حضرت ابو جعفر محمد باقر رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه بيانوي چې زما والدِ محترم حضرت علي بن حسين رَضِيَ اللهُ عَنْهُ دوه ځله خپل ټول مال د الله پاک په لاره کښې خرچ کړو او اوئې فرمائيل: "بيشکه الله پاک د توبه کوونکي ګنهګار مُومِن سره محبت کوي."

(حلية الاولياء، 164/3، رقم: 3562)

## ”د نیکۍ د دعوت“ اَهَمِّیَّت

”اَمۡرٌ بِالۡمَعۡرُوۡف وَنَهۡیٌ عَنِ الۡمُنۡکَر یعني د نیکۍ دعوت ورکولو او د بدۍ نه د منع کوونکے کار پرېښودونکے داسې دے لکه څنګه چې د اللّٰه پاک کتاب شا ته غورزوونکے [یعني په قرآنِ پاک باندې عمل نه کوونکے دے] خو چې کله هغه د بچ کېدو د پاره داسې اوکړي.“ تپوس اوکړے شو: د بچ کېدو لاره څه ده؟ اوئې فرمائیل: ” هغه د جابر او ظالم بادشاه د ظلم او زیاتي نه اُویَرېږي.

(حلیة الاولیاء، 3/164، رقم:3564)

## جَنَّت څنګه اوغوښتلے شي؟

”په تاسو کښې دې څوک هم دا اُونه وائي چې اے اللّٰه پاکه! په ما باندې جَنَّت صدقه کړه ځکه چې صدقه خو د ګنهګارانو د طرف نه وي بلکه دا اووائي: اے اللّٰه پاکه! ما ته جنّت عطا کړې، یا ما له جنّت راکړې او احسان مند مې جوړ کړې.“ (حلیة الاولیاء، 3/165، رقم:3566)

## د اللّٰه پاک غضب لرې کوونکے عمل

ما ته دا خبره را رسېدلې ده چې په پټه صدقه کول د اللّٰه پاک غضب لرې کوي. (مسالک السالکین، 1/212)

## د شیخینو مرتبه د امام زین العابدین په ژبه

یو کَس د امام زینُ العابدین رَحۡمَةُ اللّٰهِ عَلَیۡه په خدمت کښې حاضر شو او عرض ئې اوکړو: ”مَاکَانَ مَنۡزِلَةُ اَبِیۡ بَکۡرٍ وَّعُمَرَ مِنۡ رَّسُوۡلِ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم یعني

د حضرت ابوبکر صدیق رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ او د حضرت عمر فاروقِ اعظم رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ د رسولُ الله صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په نزد څه مقام او مرتبه وه؟" اوئي فرمائيل: " کَمَنْزِلِهِمَا الْيَوْمَ هُمَا ضَجِيْعَاهُ د رِسالت په زمانه کښې چې د هغوئي څه مقام او مرتبه وه هغه نن هم ده چې دواړه حضرات هغه وخت هم د رسولُ الله صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم دوستان وو او نن په مزار کښې هم د هغوئي دوستان دي."

(مناقب امیر المؤمنین عمر بن الخطاب، ص 34)

## حق والؤ سره د مرګ پرواه نه وي

(امام زینُ العابدین رَحْمَۃُ اللّٰہِ عَلَیْہ په سفر کښې خپل بابا جان امام حسین رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ ته عرض اوکړو:) بابا جانه! چې مونږ په حقه يو نو زمونږ سره د مرګ هيڅ پرواه نشته.

(تاریخ الطبری، 9/216 ماخوذاً)

## د امام زين العابدين په منٰی کښې دُعا

يو ځل امام زينُ العابدين رَحْمَۃُ اللّٰہِ عَلَیْہ په منٰی کښې دا دُعا اوغوښتله:

كَمْ مِنْ نِّعْمَةٍ اَنْعَمْتَهَا عَلَيَّ قَلَّ لَكَ عِنْدَهَا شُكْرِىْ، وَكَمْ مِّنْ بَلِيَّةٍ اِبْتَلَيْتَنِىْ بِهَا قَلَّ لَكَ عِنْدَهَا صَبْرِىْ. فَيَا مَنْ قَلَّ شُكْرِىْ عِنْدَ نِعْمَتِهٖ فَلَمْ يَحْرِمْنِىْ، وَيَا مَنْ قَلَّ صَبْرِىْ عِنْدَ بَلَائِهٖ فَلَمْ يَخْذُلْنِىْ، وَيَا مَنْ رَآنِيْ عَلَى الذُّنُوْبِ الْعِظَامِ فَلَمْ يَفْضَحْنِىْ وَلَمْ يَهْتِكْ سِتْرِىْ، وَيَا ذَا الْمَعْرُوْفِ الَّذِىْ لَا يَنْقَضِىْ، وَيَا ذَا النِّعَمِ الَّتِىْ لَا تَحُوْلُ وَلَا تَزُوْلُ، صَلِّ عَلٰى مُحَمَّدٍ وَّعَلٰى آلِ مُحَمَّدٍ، وَاغْفِرْ لَنَا وَارْحَمْنَا.

ترجمه: اے الله پاکه! ستا د نعمتونو په مقابله کښې زما شکر کم دے. په ازمینبتونو باندې زما شُکر کم دے. اے هغه ذاته! کوم چې د خپلو نعمتونو په مقابَله کښې زما د کم شُکر باوجود زه د هغه نعمتونو نه محرومه نکړم. په ازمینبتونو باندې د صبر کمیدو باوجود ئې زه رُسوا نکړم. زما د غټو ګناهونو نه د خبریدو باوجود ئې زه رسوا نکړم. زه ئې بے پردې نکړم. اے همیشه احسان کولو والا! اے لازوال نعمتونه عطا کولو والا! په حضرت محمد صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم او د هغه په آل (اولاد) باندې خپل رحمتونه نازل کړه او په مونږه رحم اوکړه او مونږه اوبخښه. (شعب الایمان، 140/4، حدیث: 4588)

## د اِمام زینُ العابدین رَضِیَ اللهُ عَنْهُ سره منسوب نظم تضمین

(په دې کلام کښې د عربئ شعرونه د امام زین العابدین رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه سره منسوب دي په کومو چې حکیم الأُمَّت، مفتي احمد یار خان نعیمي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه په اُردو ژبه کښې د دغې وزن او مفهوم نور شعرونو میلاوهلو سره تضمین کړے دے.)

ایسا کوئی محرم نہیں پہنچائے جو پیغامِ غم
تو ہی کرم کر دے تجھے شاہِ مدینہ کی قسم
ہو جب کبھی تیرا گزر بادِ صبا سوئے حرم
پہنچا مری تسلیم اس جاہیں جہاں خیر الامم
اِنْ نِلْتِ یَارِیْحَ الصَّبَا یَوْمًا اِلٰی اَرْضِ الْحَرَم
بَلِّغْ سَلَامِیْ رَوْضَةً فِیْهَا النَّبِیُّ الْمُحْتَشَم

میں دوں تجھے ان کا پتہ گر نہ تو پہچانے صبا
حق نے انہی کے واسطے پیدا کیے اَرض وسما
رخسار سورج کی طرح ہے چہرہ ان کا چاند سا
ہے ذات عالم کی پَنہ اور ہاتھ دریا جود کا
مَنْ وَّجْهُهٗ شَمْسُ الضُّحٰی مَنْ خَدُّهٗ بَدْرُ الدُّجٰی
مَنْ ذَاتُهٗ نُوْرُ الْهُدٰی مَنْ كَفُّهٗ بَحْرُ الْهِمَم

حق نے انہیں رحمت کہااور شافعِ عصیاں کیا    رتبہ میں وہ سب سے سواہیں ختم ان سے انبیا
وہ مَہبطِ قران ہیں ناسخ ہے جو اَدیان کا    پہنچا جو یہ حکم خدا سارے صحیفے تھے فنا
قُرْاٰنُہٗ بُرْھَانُنَا نَسْخًا لِّاَدْیَانٍ مَّضَتْ    اِذْ جَاءَنَا اَحْکَامُہٗ کُلُّ الصُّحُفِ صَارَ الْعَدَم

یوں تو خلیلِ کبریا اور اَنبیائے باصفا    مخلوق کے ہیں پیشوا سب کو بڑا رُتبہ ملا
لیکن ہیں ان سب سے سوا دُرِّ یتیمِ آمنہ    وہ ہی جنہیں کہتے ہیں سب مشکل کشا حاجت رَوا
یَامُصْطَفٰی یَامُجْتَبٰی اِرْحَمْ عَلٰی عِصْیَانِنَا    مَجْبُوْرَۃٌ اَعْمَالُنَا طَمْعًا وَّ ذَنْبًا وَّ الظُّلَمِ

اے ماہِ خوبانِ جہاں اے اِفتخارِ مرسلیں    گو جلوہ گر آخر ہوئے لیکن ہو فخر الاولیں
فرقت کے یہ رَنج و عَناب ہو گئے حد سے سوا    اس ہجر کی تلوار نے قلب و جگر زخمی کیا
وہ لوگ خوش تقدیر ہیں اور بخت ہے ان کا رَسا    رہتے ہیں جو اس شہر میں جس میں کہ تم ہو خُسروا

سب اَولین و آخریں تارے ہیں تم مہر مبیں    یہ جگمگائے رات بھر چمکے جو تم کوئی نہیں
اَکْبَادُنَا مَجْرُوْحَۃٌ مِّنْ سَیْفِ ہِجْرِ الْمُصْطَفٰی    طُوْبٰی لِاَھْلِ بَلْدَۃٍ فِیْھَا النَّبِیُّ الْمُحْتَشَم

اے دو جہاں پر رحمِ حق تم ہو شفیعُ المجرمیں    ہے آپ ہی کا آسرا جب بولیں نَفسی مرسلیں
اس بیکسی کے وقت میں جب کوئی بھی اپنا نہیں    ہم بیکسوں پر ہو نظر اے رَحمَۃً لِّلعٰلَمِین
یَا رَحْمَۃً لِّلْعَالَمِیْنَ اَنْتَ شَفِیْعُ الْمُذْنِبِیْں    اَکْرِمْ لَنَا یَوْمَ الْحَزِیْنِ فَضْلًا وَّ جُوْدًا وَّ الْکَرَم

اس سالکِ بدکار کا گو حشر میں کوئی نہیں    لیکن اُسے کیا خوف ہو جب آپ ہیں اس کے معیں
مجرم ہوں میں غفار رب اور تم شَفِیعُ الْمُذْنِبِیں    پھر کیوں کہوں بیکس ہوں میں یا رَحمَۃً لِّلعَالَمِیں
یَا رَحْمَۃً لِّلْعَالَمِیْن اَدْرِکْ لِزَیْنِ الْعَابِدِیْن    مَحْبُوْسِ اَیْدِی الظَّالِمِیْنَ فِیْ مَرْکَبٍ وَّ الْمُزْدَحِم

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب!    صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد


www.dawateislami.net

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِیْنَ وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰی سَیِّدِ الْمُرْسَلِیْنَ اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّیْطٰنِ الرَّجِیْمِ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ

## نیک او لمونځ ګزاره جوړېدو د پاره

هر زيارت د ماښام د لمانځه نه پس ستاسو په ځائے کښې کيدونکي د دعوتِ اِسلامي د سُنّتو ډکه هفته واره اجتماع کښې د رِضائے اِلٰهي د پاره ښو ښو نيتونو سره ټوله شپه تيروئ ❁ د سُنّتو د تربيَت د پاره مَدَني قافِلو کښې عاشِقانِ رسُول سره هره مياشت د درې ورځو سفر او ❁ هره ورځ د "فِکرِ مَدِينه" په ذريعه د مَدَني اِنعاماتو رِساله ډکوئ او د هرې مَدَني مياشتې په يکم تاريخ ئې د خپل ځائے ذِمّه دار ته د جمع کولو معمول جوړ کړئ.

زما مَدَني مقصد: "ما ته د خپل ځان او د ټولې دُنيا د خلقو د اِصلاح کوشش کول دي." اِنْ شَآءَ اللّٰه عَزَّوَجَلَّ. د خپلې اِصلاح د پاره په "مَدَني انعاماتو" عمل او د ټولې دُنيا د خلقو د اصلاح د کوشش کولو د پار "مَدَني قافِلو" کښې سفر کول دي. اِنْ شَآءَ اللّٰه عَزَّوَجَلَّ






فيضانِ مدينه محلّه سوداګران زړه سبزي منډۍ، بابُ المدينه (کراچۍ)

UAN: +92 21 111 25 26 92 | Ext: 7213

Web: www.maktabatulmadinah.com | E-mail: feedback@maktabatulmadinah.com